مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال
۲۰۲۴/۰۳/۲۱

# فلسفه او استیتیکس

## Philosophy and esthetics

## (ښکلاپوهنه)

## ۳ځپرکی

فلسفې د خپل پيدايښت په پيل کې، ياني هغه مهال چې انسان د خپلې پوهې پر مټ د ځان پيژندنې هڅه وکړه ، نو بيا يې د عقل په ځواکمنتيا تکل وکړچې جهان هم وپيژني ، نو دلته دی چې فلسفه د علومو د يوې ټولګې او د بېلابېلو علومو د پيژندنې د سرچنې او لاسوند په توګه مينځته راغله.
د حقيقت په پيژندنی کې کومې ستونزې چې د ټولنيز شعور دودې او پرمختګ په لاره د پام وړ وې هغه د ګڼو علومو پيژندنه وه .
د پوهانو او فيلسوفانو د څېړنو او څرګندونو له مخې يو شمېر علومو ټولنيز ډګر ته لاره پرانسته، چې موږ په ځانګړي ډول د رياضياتو، طبعي علومو او يو شمېر نورو ټولنيزو پوهنواوعلومو، نجوم، چاپېرپال پيژندنه ټولنپوهنه او نورد ساري په توګه يادولی شو.
د حقيقت پيژندنې دغه ستونزمن بهير ، سره د دې چې ټکنی وه، خو په ټپه ولاړ نه وه او په همدغه وخت کې دغه پوښتنې راپورته شوې، چې آيا ايستيتکس پوهنه د واقعي نړۍ د توکو له فزيکی، طبعي او د نورو علومو له ښکيلتيا سره سروکار لری او کنه؟ اوکه يې لري څنګه ؟
دا چې موږ په دې اند يو، چې استيتکس د هنر له کرښو اوړې اوډېرپراخ دی، هغه پدې مانا چې د فلسفې او ښکلا پيژندنې پوهان په ټوله کې په دوه ټکو ډېر ټينګار کوي، چې ښکلاپوهنه د نورو علومو په لړ کې په طبعي او هنری ارزښتونو کې شتون لري او «د هېګل د څېړنو له مخې هنري پنځونې د انساني هڅو پايله ده. »
هنر د طبيعت تقليد او د ټولنيزو ارزښتونو انځوراوپنځونه ده او ښکلا بيا موږ د هنري پنځونې او د ښکلي طبيعت په رڼا کې دموندنی وړګڼو .
فلسفه هم د طبيعت پيژند نې، ښکلا پيژندنې ، دچاپېرپال او ټولنيزو مناسباتو دپيژندنې وسيله ده او دعلومود پيژندنې سرچنه يې ګڼلی شو، خود طبيعت ښکلا او د هنر ځانګړی ارزښت، له ښکلا پوهنې او استيتکس نه پرته ناشونی دی، نو ځکه خو يو شمېر پوهان او استيتکس پيژندونکي په عينيت ټينګار کوي .
وروستنيو څېړنو ښودلې ده، چې ښکلا پوهنه د طبيعت له ښکلا اودهنر له پنځونې سره سرو کار لري ، له يوې خوا طبيعت او له بلې خوا د ټولنپوهنې له مخې، د ټولنيزو تجربو په بهير کې د ښکلا د ارزښت ټاکل دي، چې د طبعي او ټولنيزو لاملونو د يو والي له مخې وده مومي.
موږ دمخه دا خبره وکړه، چې ښکلا پيژندنه د فلسفې يوه څانګه ده، خو داسې يوه څانګه، چې له بېلابېلو ټولنيزو علومو سره سرو کار لري. «فيثاغورس» د ټولنيزو علومو په رڼا کې د ښکلا پيژندنې په علم، سياست، تصوف، اخلاقو، روزنيزو او ښوونيزو ارزښتونو په تړاو ډېرې (۳۵ مخ) څرګندونې کړيدي.
موږ دمخه د طبيعت د ښکلا خبره هم وکړه، چې ډېرو فيلسوفانو او د استيتکس پوهې خاوندانو پری څرګندونې کړيدي او ان ځنو لرغون پوهانود ښکلا دومره ستاينه کړيده، چې شعرونه يې ورته ويلې دي، چې موږ«برمانيد س» د بېلګې په توګه يادولی شو.
دی د طبيعت په ښکلا دونه مين وه چې د شعرونو يوه لويه ټولګه يې د طبيعت ښکلا ته ډالۍ کړې وه ،«برمانيدس» د ايټاليه اوسيدونکی وه او په «۵۰۴ م ز» کال زيږيدلی و.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د «برمانیدس» په اړه د فلسفې په تاریخ کې راغلي دي، چې د «یونان فلسفې د خپل پیدایښت د تاریخ له پیل نه دیونان فیلسوفانوپه دوه برخو کې دخپلونظرونو او اندونو پخلی کړیدی، چې یو یې د «یوناني حکمت» په ځانګړي ډول د «هراکلېټوس» حکمت او بل یې د «برمانیدس» او «زنون» حکمت بلل شویدی.[1]
هراکلیتوس له هر بل فیلسوف نه زیات د «طبیعت ښکلا» په اړه څرګندونې کړېدي، ده تر ډېره بریده په یونان کې د فلسفې وده تر خپل فلسفي اغیزلاندې راوستې وه.
هنرمند د طبیعت ښکلا پنځوي او هر هنرمند خپله هنري تومنه له طبیعت اوله خپل چاپېریال نه اخلي، د ځان لپاره سوژه او هنري توکي راغبرګه وي، د خپل هنري نوښت پر مټ، ښکلې جامې او رنګینې ګاڼې وراغوندي او بیا یې لکه د ناوې په ځېر سره ډولۍ کې د هنرمند کور ته بدرګه کوي.
هنرمند د ښکلا دوه رنګینې پالي، لومړی له طبیعت نه د ښکلا پېژندنې جاج اخلي او دویم د هنري ښکلا د پنځونې رنګ او خوند ټولنې ته وړاندې کوي.
د فلسفې او استیتک په رڼا کې د ښکلا پوهنې فیلسوفانو ته دښکلا پېژندنی تعریف اسانه کار نه برېښي، د ا ځکه چې هنر او ښکلا دوه بېلابېل توکي دي، هنر خپل ډولونه لري او د ښکلا معنوي او ظاهري ښکلاییز توکي خپلې خپلې بڼې لري.....ولې بیا هم اړینه ده، چې د ښکلا پېژندنې ارزښتونه او هم هنري شهکارونه دور ته والي له مخې وڅېړو.

**هنر او ښکلا**

د ښکلا پوهنې اوښکلاپېژندنې تعریف ډېر ساده او اسانه ندی او ډېرښکلا پوهان په دې ټینګار کوی، چې ښکلا په طبیعي او هنري توکو کې شتون لري. نو ځکه خو اړ یو، چې لومړی دطبیعت ښکلااوبیا هنر وپېژنو.
ښکلا د لیدونکي، احساس او د انسان یو اروایي فعالیت دی ... هر څه ښکلي دي او هر څه ښکلي ندي، د یوه ښکلي توکی د معیار ټاکنه احساس ، ذوق ، مینه او د انسان ذهني فعالیت دی او د نامتو فیلسوف « د ویدر »خبره، چې وایي ټول هغه څه ښکلي دي، چې ماته د ښکلا احساس راکوي.
که له یوی خوا تخیل، احساس، ادراک، ذهني او حسي فعالتونه د یوه هنري ارزښت پولی ټاکی او له بلې خوا انسان کولی شي له هنري تابلو نه لپې لپې معنوی ښکلا راټوله کړي ، خو تولستوی بیا د ښکلا په درک او احساس کې د انسان مینه د انسان جنسي غرایز نه مني او ښکلا د هنر په کتار کی دروي اوټینګارکوي ، چې هنر نېغه په نېغه د واقعیت بیان نه دی، بلکې د نړېوالې ګډې ژبې، نښو نښانو، سمبولونو او کنایو پر مټ ځان ښودنه کوي.
هنر پخپله هغه پټخولې تابلو ته پاتې کېږي، چې له ړنو سترګو سره سره څه نه ګوری، خو لوستلی کېږي اوخپل شتون ښیي .
هغه د «پیکاسو» خبره، چوپټیا کله کله یوازینۍ ټاکنه ده، چې کولی شو حقیقت پکې ومومو.»
همدا راز د ښکلا پوهنې له مخې د«ښکلا» د ښکلیتوب موندنه هم ډېره ستونزمنه نده، چې د «استیتکس» د مزو سرچنه یې ونه ګڼو، بلکې هغه څه ګران دي، چې داسې یوې پوښتنې ته ځواب ومومو، چې «نوموړی شی ولې ښکلی دی؟»
هنر د انسان هغه له نوښت او پایښت نه ډک هنري فعالیت دی، چې په بېلابیلو ټولنیزو ( لکه انځور ګری، معماری، سینما، تیاتر موسیقی، ادبیاتو او نورو) برخو کې فعالیت کوي اوداځکه چې هنر د ټولنیز شعور د یوې بڼې اوودې په توګه ټولنیز واقعیتونه د هنري ارزښت له مخې خلکو ته رسوي.
یوه نامتو هنرمند «دانته» په سمبولیکه ژبه او په افسانوي بڼه د «لته» اوبو داسې یو انځور وړاندې کړی، چې ګڼې که څوک یې وڅښي د ژوند پخوانۍ ناخوالې، ناورین او تېرې غمیزې هېروي او «د شیانو هنري انځور، چې موخه ترې د واقعیت موندنه ده، له ټولو هغو توکو سره سرو کار لري، چې هنري او «استه تیک» ارزښتونه منعکس کړي دي .»[2]
ما نا داچې د هنر یوه ځانګړنه خودا هم ده، چې لومړنۍ انساني ټولنې له طبیعت نه څه غوښتل، د کومو هنري توکو پر مټ بې یاغی طبیعت تر ولکې لاندې راووست؟
د هنر له ټولنېزې دندې پرته ، د «استه تیک» او ښکلا پېژندنې دنده دا ده، چې د انسان د ژوند کچه، د ذوق له مخې، د ظرافت، احساس او قضاوت له مخې لوړه کړي اوهنرمند د خپل ذوق اوهنري نوښت له مخې، طبیعت او ټولنیز ژوند د خپل اند او پوهې له مخې انځورکړي.
«سارتر» ښکلا پېژندنه، د فلسفي مفاهیمو او هنري ارزښتونو په رڼا کې ګوري ، چې بیا متفکر انسان دښکلا پوهنې په فکر کې ولېږي !؟
اپلاتون په همدی بنسټ د «استیتکې» پوهې په تاریخ کې، په جلا جلا توګه په دوه پوښتنو ټینګار وکړ، لومړی دا چې ښکلا څشی دی؟ ښکلا چېرته شتون لري او ارزښت او ماهیت یې په څه کې د ی؟
د دغو پوښتنو په اړه یو شمېر ښکلا پېژندونکو ووېل، د یوه فکري استیتک له مخې، ښکلا هغه ده، چې یوازې د انسان معنوي ژوند سره تړاو لري او د انسان د شعور په تل کې ځای لري.
ولې یو شمېر نور ښکلا پېژندونکي د خپلو څېړنو په ترڅ کې، د ښکلا له معنوي ارزښت سره سره، د عیني ښکلا پخلی هم کوي . د دغې فلسفې او نظر متفکرین انګېري چې ښکلا په خپلواکه توګه شتون لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ددغودوارو نظر یو د پلویانو له خوا د ا پلاتون نه راواخله تر دانته او شکسپیر پورې د استیتکي پوهې او افکارو پخلی شویدی.

د ارستو په اند د ښکلاپوهنې معیار د انسان ارزیابي او له واقعي نړۍ څخه د هغه د پوهې معیار دی اود ارستودتینګار له مخې له ګڼو اندونو او نظرونو څخه ښکاري، چې په کلاسیکه تیولنه کې، استیتکس اوښکلا پوهنه، د هنر له بدلون سره ارګانیک پیوند لري.
ډېرو هنر پېژندونکو ټینګار کړی، چې هنر د انسان له فطرت نه زېږیدلی دی، هغه څه چې د هنر پنځونه او سرچینه ګڼلی کېږي ، هغه دښکلاپوهنې بنسټونه دي .
ـ هنر د پوهانو په اند، په څو ټکو کې رانغاړو، شېلر او اسپنسر په دې نظر دي، چې هنر د لوبو له غریزې څخه سرچېنه اخلي .
ـ مارشال، ټینګار کوي ، هنرونه د ښکلا او نورو د پام راښکونکي وي.
ـ « بالدوین »، انګېري، چې هنر د ځان ښودنې له مینې څخه پیدا کېږي او «لانګ فیلډ» هم د دې خبرې پخلی کړیدی، چې هنر د ځان ښودنې او د لوبو سره د مینې له یو والي نه زېږي...مانا د اچې وده کوي اوپرمختګ .
ـ د « هیرن » د نظرې له مخې، هنر په لومړي سر کې د ژوند د اړتیاو د پوره کولو په موخه مینځته راغلی دی او ډېرو پوهانو بیا د دې خبرې پخلی کړیدی، چې هنر د ښکلا پوهنې له غریزې نه زېږیدلی دی.
د «ژید» په اند او فکر هنر له طبیعت سره ډغرې وهل دی او د زورځواکی پر مټ مینځته راځي او د ډېرې ازادۍ له امله مرې اوساه ورکوي .
هومر، دانته، شکسپیر، سونکل، ویرژل او یو شمېر نورو پخپلو شعرونو او څرګندونو کې د دې پخلی کړیدی، چې هنر د ازادۍ په لور یوه اروایي تنده ده، چې د طبعې زور ځواکی له امله څروبېږي.
اپلاتون د دې خبرې پخلی نه کوي، لکه «دولاکوا» چې وایي، په انځور ګرۍ او ادبیاتو کې دولولواواحساساتو پارونه ده .
دده د اند او فکر پخلی یوه فرانسوي پوه «روکوکو» هم په لړ توپیر، چې د هنر او ښکلا سره تړاو لري ، داسې کړیدی، چې په هنر کې انځورګرۍ د داخلي او بهرنی ښکلا بشپړول دي.
ارستو د ښکلا په اړه په دې نظر دی، چې ټوله نړۍ هڅه کوي یو کمال ته ورسېږي او څومره چې ورنږدې کېږي، ښکلا ورته ځان ښيي .
له یادو څرګندونو دې پایلې ته رسېږو، چې هنر او ښکلا لکه د یوې ونې تنه چې ملې اوریښې یې یو په بله کې دومره ننوتې دي، چې دواړه له نا خوداګا او ټولنیز تحت الشعور سره اړه لري.

---

[1]) په ختیځ کې لرغوني فلسفه ۳۷-۳۶ مخونه
[2]) طبري، بنیاد اموزش ۹۵ مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ